كله چې يو مسلمان د وصيت كولو لپاره څه ولري، نو ورته روا نه دي چې درې شپې پرې تېرې شي پرته لدې چې هغه يې ليكلى وي

له ابن عمر رضى الله عنهما څخه روايت دى چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې ويل يې: «كله چې يو مسلمان د وصيت كولو لپاره څه ولري، نو ورته روا نه دي چې درې شپې پرې تېرې شي پرته لدې چې هغه يې ليكلى وي" ، عبدالله بن عمر رضى الله عنهما وويل: "له هغه وخته چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دا خبره اوريدلي، پر ما يوه شپه هم داسې نه ده تېره شوې چې وصيت مې راسره نه وي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې هېڅ مسلمان ته نه ښايي چې درې شپې پرې تېرې شي او په حقوقو او يا پيسو كې د وصيت كولو حق ولري، كه څه هم لږې وي، مګر دا چې وصيت يې بايد ورسره ليكلى وي. عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ويلي: له كله نه مې چې دا وينا له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي نو پر ما يوه شپه هم داسې نه ده تېره شوې مګر دا چې وصيت مې راسره وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5831